شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شماره مسلسل (۹۳۸) سال هژدهم ،شماره (۲٤) پنجشنبه (۲۸) ثور ۱۳۷٤ هـ ش (۱۹) ذي الحجه ۱٤۱۵ هـ ق (۱۸) مي ۱۹۹۵ م

قیمت (۱۵۰) افغاني (۲ روپیه)

ولسوالي سنگچارك وچندين منطقه ديگراز تسلط اداره كابل آزادشد

سرپل - ۲۷ ثور :

بعدازدرگيري شديدميان نيروهاي شوراي عالي هماهنگي وافراد اداره كابل درولايت سرپل چندين مناطق از تسلط نيروهاي اداره كابل آزادشد .

خبرنگارشهادت ازولايت سرپل گزارش ميدهدكه ازمدت دو روزبه اين سو درولايت سرپل درگيري هاي خونيني ميان نيروهاي شوراي عالي هماهنگي وافراد اداره كابل جريان داشته كه درنتيجه اين درگيري هاولسوالي سنگ چارك ،مناطق لعل باي، لولاتي وبشر ، ازتسلط افراد اداره كابل آزادگرديد، تلفات وخسارات جاني ومالي زيادي به دشمن وارد شد امادرگزارش آماردقيق تلفات وارده بردشمن ذكرنشده است .

درخبرعلاوه شده كه هنگام پاكسازي مناطق متذكره مقدارزياد اسلحه ومهمات به دست نيروهاي شوراي عالي هماهنگي افتاده است .

هند خپل پرتوي توغندي ځاي پرځاي کوي

نوي ډيلي - دغويی ۲۷ :

دهند صدراعظم ناراسيماراوويلي چې کيداي شي هندخپل پرتوي توغندي ځاي پرځاي کړي ، د... ډيلي چې داتوغندي به کله اوچيرې ځاي پرځاي کړي .

دپرس تروست اف انديا خبري آژانس ريوټ ورکوي چې راووړمه ورځ خپل پارلمان ته داخبره هغه وخت وکړه چې دپارلمان غړو دنيول شوي کشمير دنوبوجگروپه اړه خبري کولې .

نړيوال خبري آژانسونه وايي داتوغندي چې دځمکي نه هواته ويشتل کيږي دانداخت ساحه ئي (۲۵۰) کيلومتره ده .

راوخپل پارلمان ته ديويل توغندي دجوړولو وعده هم ورکړه او داتوغندي چې اګني نوميږي په (۲۵۰۰) کيلومتره کي نښه ولي .

دحزب اسلامي مجاهد امير ورور حکمتيار دعرفي په ورځ د"سما" فرقي مجاهدينو ته به خطاب کي :

په کابل کې چې کوم ائتلاف دحزب اسلامي دتکولوله پاره يوبل ته لاس ونه ورکړي

• راځي همدغسي يوتولګي جوړکړو، چې خداي (ج) دهغه مدافع وي

• زمونږملت دجهاد په نتيجه کي ددنيا دتاريخ مسير بدل کړ

وو، هغه مات شوي دي

وروڼو ! هغه کسان چې پرون زمونږ سره جنګيدل ،اوس زمونږ په څنګ کې دي (۳)مخ

نيروهاى اداره كابل مدعى پيشروى درولايت هلمند شده اند

پشاور - ۲۷ ثور :

سخنگويان اداره كابل درپاكستان مدعي شده اندكه نيروهاي وفاداربه رباني رئيس اداره كابل برخي مناطق ولايت هلمند رااز كنترول طالبان آزادنموده ومصروف پاكسازي بقيه نقاط اين ولايت اند .

گزارش هاي رسيده از پشاورحاكيست : يكتن از نمايندگان اداره كابل دراين شهرباتائيد اين خبرمي افزايد كه عمليات پاكسازي نقاط مختلف هلمند بخصوص مركزاين ولايت ازوجود طالبان جريان داشته، بقول وي عمليات موفقانه به پيش ميرود .

براساس همين گزارش درگيري ميان نيروهاي طالبان واداره كابل درولايت هلمند روزدوشنبه آغازشده وتاحال جريان دارد .

منابع طالبان ضمن تائيد درگيري هايي درولايت هلمند مي گويند قواي رباني هيچگونه موفقيتي بدست نياورده اند .

مذاكرات مقدماتى ميان هيئت هاى نمايندگى رژيم دوشنبه ومخالفان آن دركابل پايان يافت

كابل - ۲۷ ثور :

مذاكرات مقدماتي ميان هيئت هاي حكومت تاجكستان ومخالفين آن دركابل خاتمه يافت .

گزارش رسيده ازكابل حاكيست مذاكرات مقدماتي روزسه شنبه ميان هيئت هاي حكومت تاجكستان ومخالفين آن دركابل به پايان رسيد . دراين دورمذاكرات مقدماتي هيئت هاي طرفين موافقه كردندكه براي حل مسالمت آميز منازعه تاجكستان مذاكرات به سويه عالي برگزارشود .

رحمت الله يف معين وزارت خارجه تاجكستان ازهيئت سي نفري حكومت رياست ميكرد وحاجي اكبرتوره جان زاده معاون نهضت اسلامي تاجكستان در رأس هيئت مخالفين حكومت قرارداشت .

ارتش هند (۳۹) مبارز مسلمان را به شهادت رسانيد

دهلي جديد - ۲۷ ثور :

ارتش هند طي يك ماه عمليات سي ونه تن ازمبارزين مسلمان را درجنگ هاي شمال شرقي درسرحدميانماركشته وچهل تن ديگررا بازداشت كرده است .

قرارگزارش اسوشيتدپرس مسئولان ارتش هندروزگذشته باتائيد اين خبرعلت حمله به شورشيان راتلاش آنان براي ورود به هند اعلان كردند . گفته شده است كه اين شورشيان اعضا چهارگروه آزاديخواه هستندكه درايالت هاي شمال شرقي هندفعاليت ميكنند .

دتګاب په ولسوالي کي :

دکابل اداري جګړه مارګروپونه يو بل بې وسلي کوي

کاپيسا - دغويي ۲۷ :

دکاپيساولايت دتګاب ولسوالي څخه په رارسيدلورپوټونوکي ويل کيږي چې دوي ورځي مخکي دغويي دمياشتي په ۲٤ مه نيته دتګاب ولسوالي دتعمير په سر جګړه چې دصالح اوضابط انور دګروپونو ترمنځ ونښته يوکس پکي مړ اوڅوکسه ټوپيان شول .

خبرځاي ليکي چې له نښتي وروسته دضابط انور ګروپونودصالح ګروپونه بې وسلي کړل اودتعمير امنيت دضابط انورګروپونوپه لاس کي واخيست .

خبرځاي زياتوي چې اوس دوهم ځل دواړو خواووبيل ته مورچې نيولي اودواړو لوري جګړي امکانات ئي رامنځ ته کړي دي .

دحزب اسلامي افغانستان اعلاميه

بقيه درصفحه سوم

درولايات غور وبادغيس :

مناطق متعددي بتصرف نيروهاى شوراى عالى هماهنگى درآمد

قلعه نو - ۲۷ ثور :

قرارگزارش هاي رسيده ازولايت بادغيس جنگ هاي وقفه اي درگوشه وكنار آن ولايت وبرخي مناطق ولايت غوردرهفته اخير جريان داشته ونيروهاي شوراي عالي هماهنگي به موفقيت هايي نايل شده اند .

براساس همين گزارش طي دوروزگذشته تعداد بيست نفر ازنيروهاي اداره كابل باسلاح هاي دست داشته خويش به نيروهاي شوراي عالي هماهنگي تسليم شده اند .

خبرمي افزايدكه دردرگيري هاي متفرق درنقاط متعدد اين دوولايت شش تن ازافراددشمن هلاك وچندين تن ديگرآنان جراحت برداشته ومقدارقابل ملاحظه اي اسلحه ومهمات به تصرف نيروهاي شوراي عالي هماهنگي درآمد .

دجبهه نجات ملي مشرار دهماهنگي عالي شورا رئيس محترم صبغت الله "مجددي" ديري مرکي په ترځ کي :

دکابل حکومت چې په هرډول وي بايد له قدرت څخه ليري شي

اسلام آباد - دغويي ۲٦ مه :

ترناوسه پوري ماته داخبره نده معلومه اوته زه پدي پوه شوي يم چې دکابل داداري اوجنرال دوستم ترمنځ کومي خبري شوي اوکه نه .

داخبري دجبهه نجات ملي مشر اودهماهنګي شوارئيس محترم حضرت صبغت الله مجددي له بي بي سي سره ديوي مرکي په ترځ کي وکړي .

پاتي په دريم مخ کي

اداره كابل خواستار مساعدت بامردم بدخشان شد

طبق اظهارات سيدسليمان شاه كارمندنمايندگي اداره كابل دراسلام آباد پاكستان ، رباني به مسئولين اين نمايندگي هدايت داده است كه از طرق ديپلوماتيك ازكشورهاي اسلامي ودوست مثل مصر، ماليزيا، عربستان سعودي، كويت ،قطر، امارات متحده عربي ،ايران وپاكستان تقاضاي كمك عاجل بشري رابراي اهالي آسيب ديده ولايت بدخشان نمايند .

براثر آفات طبيعي سه ساله مثل زلزله ،سيلاب وخشك سالي وضع اقتصادي ولايت بدخشان صدمه شديد ديده است . شاهدان عيني ميگويند : مالداري وزراعت دربدخشان ازهمه بيشتر صدمه ديده وقلت مواد خوراكي مشكلات زيادي رابراي مردم فقيراين ولايت بارآورده است .

درخبرآمده است فقدان مواد طبي وادويه در ساحات دوردست بدخشان مثل درواز، شغنان ومنجان وضع بهداشتي مردم راخراب ترساخته است .

سرمقاله

دکابل غيرقانوني اوناروا حکومت په وړاندي چوپ کښيناستل ستره ګناه ده

هرڅوك پدي خبره ښه پوهيږي چې دهيواد زعيم اومشرتابه دټاکلو له پاره داسلام سپيڅلي دين يوه روښانه لاره اوقانون ټې ټريښي دي. هرهغه زعيم اومشر قانوني اوداطاعت ورګرځي چې داسلامي لارښوونې سره سم ټاکل شوي وي. داسلام آخري پيغمبر محمد صلي الله عليه وسلم له رحلت نه وروسته دراشده خلفاو ټاکنه ترقيامته پوري دمسلمانانو له پاره دلاري دمشال حيثيت لري. اومسلمانان مکلف دي چې داصحابو کرامو دسنتو دپيروي اومتابعت په رڼاکي خپل امير وټاکي اواطاعت يې وکړي.

دافغانستان مسلمان ولس چې پوره څوارلس کاله ددهريت اوکفر په خلاف جهاد يې کړي دي حق لري چې داسلام داصولو سره سم دخپلي خوښي امير اوزعيم انتخاب کړي ، خوله بده مرغه جاه طلبه اوخودخواه عناصر ددي پرځاي چې دامير دټاکلو حق دافغانستان مسلمان ملت ته ورکړي په زوره وړباندي مسلط شويدي اوپول هغه اسلامي اصول يې پښو لاندي کړي چې دامير دټاکلو له پاره شريعت وضع کړيدي .

دکابل موجوده ټش په نامه جمهوررئيس نه خوداسلامي اصولو په رڼاکي منتخب شوي او نه ددنيا د وضعي قانون له لاري ، بلکي په وچ زور دافغانستان پرمسلمان ملت مسلط شويدي اوغواړي چې دظلم جبر اواکراه له لاري دافغانستان مسلمان ولس خپل ناروا اوغيرقانوني حکومت ته تسليم کړي. پخپله رباني هم دخپل حکومت دقانونيت په باره کي څه شرعي اومنطقي دليل نشي وړاندي کولي ، هغه يواځي پدي بې ځاي دليل باندي خپل ځان نه دپرانت ورکولو کوښښ کوي چې چا ته حکومت حواله کړي په ټول افغانستان کي جنګ دي .

که حکومت پريږدم نو دااقتدار خلا منځ ته راځي . درباني صيب دغه بې منطقه دليل پخپله پدي دلالت کوي چې ټول مشکلات هغه پخپله پيدا کړي دي . که هغه په هيواد کي امن اوامان نشي راوستي اوولس يې نه مني نو بيا هغه ولي له اقتدارنه لاس آخستونه ځمنو کيږي ! داسي يومشر چې نه يې ولس مني اونه په هيواد کي امن تامينولي شي په کوم قانون اودليل دحکومت کولو حق لري !

پکارخو دادي چې په آبرو مندانه توګه دااقتدار له ناروا چوکي نه کښته شي تر څو مسلمان ملت په خپله خوښه يومنتخب اسلامي حکومت جوړ کړي،که رباني نن وغواړي چې په افغانستان کي امنيت تامين اويوقانوني حکومت جوړشي پرته دځه مشکل اوځنډنه داکارترسره کيداي شي .

هغه داسي چې قيادي شورا په ګډه له مشورې نه وروسته د ټولو په خوښه يوموقت حکومت جوړکړي اوبيا ټول تنظيمونه دهغه بشپړملاتړ اومرسته يې وکړي . پدي ترتيب کيداي شي چې هم جنګونه ختم شي اوهم راتلونکي له پاره دعمومي انتخاباتو له لاري يو منتخب اسلامي حکومت منځ ته راشي خوله بده مرغه رباني داسي کولو ته تيارنه دي هغه له خپل ځانه پرته بل هيڅوك ددي اهل نه ويني چې اقتدار ورته وسپاري حال داچې هرجهادي مشر ددي استعداد اوقابليت لري چې دموقت وخت له پاره دافغانستان دمسلمان ملت قيادت په صحيح طريقه اداکړي . داچې رباني اوملګري يې دافغانستان قيادت اوصيادت دخپل ځان حق ګڼي اوټول ملت په زوره ځانته دتسليمولو په فکر کي دي،نو په داسي صورت کي دهغوي په وړاندي چوپ کيښناستل دشريعت په نظر کي ستره ګناه ده . جهادي مشرانو ته پکار دي چې نوره مصلحت پسندي اوتماشا بيني پرځاي خپله اسلامي فريضه ادا کړي او په زغرده توګه دکابل موجوده غيرقانوني حکومت په خلاف سنګر ونيسي ترڅو يو طرف ته به افغانستان کي دديکتاتوري اوتحميلي نظام مخه ونيولي شي .

اوبل طرف ته دافغانستان دمسلمان ملت دآرمانونو په مطابق يو سوچه منتخب اسلامي حکومت بنياد کيښودلي شي اوراتلونکي له پاره دافغانستان زعامت اومشرتابه داسلامي اصولو سره سم وټاکل شي .

جنرال دوستم به دحضرت مجددي اوحکمتيار دخوښي خلاف هيڅ پريکړه ونکري

• مونږله هرڅه نه اول په افغانستان کي دسولي غوښتونکي يو

جنرال کلتونوف

مونږله هرڅه لومړي غواړو چې په افغانستان کي هوښياراوغښتلي کسان يوله بل سره لاسونه يو کړي اوپه ټوموري هيوادکي دقومي شخړو اوکورنی جګړي مخه بنده اوبيري ملي سولي ته درسيدولاره هواره کړي .

داخبري يوروسي جنرال کلتونوف له بي بي سي سره دمرکي په ترځ کي وکړي .

کلتونوف دجبهه نجات ملي دمشراودهماهنګي شورا درئيس دتيري شپي مرکي ته په اشاري سره داخبره وښله چې جنرال دوستم به دافغانستان دشمالي ولايتونو ديوځي شورا اودغه راز دافغانستان داسلامي انقلاب دهماهنګي په شورا کي دخپلو مشرانواوپدي لړکي دمجددي اوحکمتيار دخوښي خلاف کومه پريکړه ونکري .

کلتونوف ددي پوښتني په ځواب کي چې

پاتي په څلورم مخ کي

رهبرفرقه مذهبى «روزقيامت» درجاپان بازداشت شد

توکيو - ۲۷ ثور :

به تعقيب توقيف رهبرفرقه معروف به «روزقيامت» كه متهم به حمله گاززهرداربرخط آهن زيرزميني شهرتوكيو ميباشدهزاران عسكرجاپاني درسراسر آنكشور به حالت آماده باش درآورده شده است .

پوليس جاپان بعداز چهارساعت جستجودرمقرفرقه مذهبي روزقيامت درنزديكي كوه فوجي رهبراين فرقه رادستگيركرد .

سوگرآشاراتام رهبر اين فرقه وسي عضوديگرآن متهم به معاونت درقتل وارتكاب به سائرجرائم شده است .

توقيف رهبر اين فرقه دوماه بعدازآن صورت گرفته است كه گازضد اعصاب دردهليزهاي خط آهن زيرزميني توكيو رهاگرديدكه ازاثر آن دوازده نفر هلاك وبيش

بقيه درصفحه چارم

پوليس عرفات (۱۰) مبارز جنبش حماس رابازداشت نمود

بيت المقدس - ۲۷ ثور :

پوليس عرفات ده تن ازاعضاي جنبش اسلامي حماس را شب گذشته بازداشت كرد .

گزارش خبرگزاري فرانسه حاكيست : اين افراد درنزديكي اردوگاه فلسطيني شاتي وجباليا درشهرغزه بازداشت شده اند .

محمدشفيع يكي ازقوماندانان اين گروه ومحمدشهاب ازمسئولين اين جنبش درجمله بازداشت شدگان هستند .

درخبرآمده است كه علت بازداشت اين افراد تحقيق ازآنان اعلان شده است . گروه هاي مبارزفلسطيني با صدوربيانيه يي خواستارآزادي اين افراد وتمام زندانيان فلسطيني شدند .

گزارش ديگري حاكيست :شهرنابلس صحنه تظاهرات هزاران فلسطيني معترض بود. مظاهره كنندگان عملكرد پوليس عرفات را محكوم نموده ، خواستار آزادي تمام زندانيان فلسطيني ازززندان هاي عرفات شدند .

نهمين اجلاس كميسيون مشترك اقتصادى ايران و پاكستان آغاز به كار كرد

• مسئله حل بحران افغانستان در ديدار هيئت ايرانى با بينظير بوتو مطرح شد

اسلام اباد - ۲۷ ثور :

نهمين اجلاس كميسيون مشترك اقتصادي ايران وپاكستان در اسلام آباد آغازبه كاركرد .

گزارش هاي رسيده ازاسلام آباد حاكيست اجلاس دوروزه كميسيون مشترك اقتصادي ايران وپاكستان پيش ازظهرامروز دراسلام آباد پايتخت پاكستان آغازبه كاركرد درنشست روزسه شنبه وزير مواصلات ايران ومشاورصدراعظم پاكستان درامورااقتصادي كه رياست هيئت هاي نمايندگي دوكشور رابه عهده دارند ، طي سخناني باتوجه به امكانات وتوانايي هاي ايران وپاكستان وتوسعه تجارت ميان دوكشورتاكيد كردند . درجريان اين اجلاس طبق توافق طرفين مقامات وكارشناسان دوكشور درچهاركميته اموروتجارت وبانكي ، حمل ونقل وارتباطات ،صنعت ومعدن ونفت وگازو درباره زمينه هاي مناسب براي افزايش حجم مبادلات بين ايران وپاكستان به تبادل نظرميپردازند .

بقيه درصفحه چارم

سخن روز

دبدخشان مرگاني حالت دائتلافیونو پرلمن بل توړداغ

یاسر

دا متو ، چي د لویدیځ ښکیلاك اودسیمي دمرتجعینو له خوا افغانستان ته بي شمیره لاسونه راغځیدلي ښکاري ، خو څه چي پکي ډیرارجع اوڅرګند وینو ،هغه پرواکمني دربانی اومسعود له اړخه بي جوازه ټینګاردي چي هیڅ دلیل ورته نه لري . اوداهم ښکاره شوه ،چي دملګرومللتونو رول ډیر بي ارزښته اوبي اغیزي ؤ، دمحمود مستیري ګرایش هرچاته یاددي ،چي دانکاریه صورت کي به درباني پرحکومت نړیوالي دروازي وتړل شي ، خو موږ ولیدل ، چي دملګرومللتونو دبي اهمیتي غوټدي دي اخطار هم کوم رنګ رانه وړ ، پراخي دانه چي رباني له انزوا سره لاس وګریوان نه شو، عجیبه دابریښي ، چي بهرني سفارت خاني ورو ، ورو په کابل کي خپل دفترونه پرانیزي ،اوفعالیږي ،اوس به نو افغاناتو ته دملګرومللتونو نش په نامه نقش نیه بریښ شوي وي ،چي بوه بي مانا خبره وه ،اوداامریکا ده چي دنړي چارې سمبالوي ، او ملګري مللتونه یي تر حکم لاندي اداره ده . نوربنځیا هم نړي که نورڅه نه کول ، پروایي نه لرله ، خو دومره یي خامخا کولي شول ، چي درباني له حکومت سره یي دیپلوماتیکي مقاطعه کړي وي . ځکه د رباني حکومت د اصولو اوقانون له مخي دلجیب له حکومت نه بتر څکه دي ، چي نوروولایتونه لا پریږده ، پرتول کابل هم برلاسي نه لري ، او که فرضاً وبي لري ، بیا یي هم شکل کودتایي او پرملي اوجمهوري بنسټونو منځ ته ندي راغلي . په هرصورت له امریکا او یادلویدیځ ترلاس لاندي ادارو نه دمسلمان افغانستان له پاره دخیر ثمه له زانو نه کتوري غوښتل دي او ددي پلګي په ګرده نړي کي ترسترګو کیږي ، چي لویدیځ پخپل ټول حواك له اسلام اومسلمانانو سره اړم دي ، که په فلسطین کي یهود وي ، چیچن وي اوکه بوسنیا د لویدیځ لپاره کماني السریه اهمیت لري،او په ورکاوي پسي یي په ډیري بي رحمي پیځي رابهوخلي دي . زموږمجاهد ولس واوریدل ، چي پدي وروستیو کي خبري رسنیو دافغانستان دیوه ولایت بدخشان په باب دردوونکي مطالب بیان کړل. چي دنړیوالو له سترګو غورځیدلي ، اوکوم حالت چي پکي روان دي ، دبرزو به داخلك له نه جبرانیدونکو کړاوونو سره مخامخ کړي ، خو حیرانوونکي خبره داده ،چي بدخشان پخپله دکابل دجمهوررئیس !! استاذ رباني کور وکلي دي ،او نن چي پکي څه ترسره کیږي ، دخوشال بابا ګیله پري مصداق ده ،چي:

زه دبل توري ټوپك ویشتلي نه یم
که ویشتلي یم خوبیاپخپل ټوپك یم

بدخشان څه وخت رومبي یوي سختي زلزلي وځاپه ، چي دمروشمیري په سلونو دي دمعیوبینو اونورو تلفاتو اندازه یي نده څرګنده . پردي سربیره دبدخشان ولایت دتاجکي مجاهدینو له کبله دروسي الرتکو دمشق اوټرین مرکزي نقطه ده ، او دغه ټماري پري څو ځلي سرته رسیدلي ، چي درانه مالي اوځاني تلفات یي رامنځ ته کړي ، پردي سربیره تاجکي مجاهدینو اومهاجرینو هم دبدخشان اقتصادي برج او مشکل یو په څو کړي ،اودرني ستونزي یي زیږولي دي . همداراز بدخشان موقعیت داسي دي ، چي ورته هم سرحدي هیواد تاجکستان د ي. اوهغه پخپله په جنګ بوخت او بیا دا ډول جنګ چي مرکزیي ورته همدا بدخشان ښکاري، نوري مرستندویه اداري نشي کولي ،دغه ولایت ته رسیدګي وکړي. له همدي کبله یي نه څوك له ستونزو پوره خبر دي ، اونه یي د پیښو خبرونه په کما حقه ډول خپاره شول ، نوځکه بدخشان له هرارخه په انزوا کي دي . اوکه همدغه ډول طبیعي پیښي او دروسي الرتکو برغلونه پکي دوام پیدا کړي ، نو ډیر زر به دلته یوه داسي بشري فاجعه رامنځ ته شي . چي دافغانستان دستونزو په تاریخ کي به یي مثال کم وموندل شي . دبدخشان پدغه ډول حالت زار دمري اندیښنه دا خبره نوره هم زیاتوي ، چي اخر استاذ رباني ولي دغسي خپل کور وکلي ته دیوه مسؤول په ډول اعتنا نده کړي، خو چي څوك ددغي ائتلاف پس منظر په ژور ډول مطالعه کړي ، نو پوهیږي ، چي استاذ رباني په ائتلاف کي سمبولیك حیثیت لري.او دابي د بي وسي لوبه نښه ده ، چي بدخشان ته هم کومه پاملرنه نشي کولي . ځکه افغانان دائتلاف له نافذیتونه خبردي ، چي دکابل ښکلي ځایونه دهغوي دکلبوالو اوځیلرانو په لاس کي دي. او پر کابل عملاً حکومت کوي ، داکه داستاذ رباني بي وسي وته ګټل شي ، نو څه به وي. ده باید بدخشان ته په ممتاز نظر کتلي وي. بدخشان دلعلودکان اوهمداسي دنورو امتیازو نو له کبله په تاریخ کي نړیوال شهرت تر لاسه کړي ،او اوس چي ورسره له کومي بي دردي نه ګاراخیستل کیږي . دا په حقیقت کي دائتلافیونو پرخوټري لمني بربل توړ داغ د ي، چي هیڅکله به تري ونه وینځل شي . له یوي خوا روسي الرتکي دبدخشان کلي وراتوي، اومظلوم ولس یي بي دریغه وژل کیږي ، خوله بلي خوادواکتر عبدالرحمن په مسکو کي وي ، اودافغانستان له پروتي اونتني قاتل روس نه مرستي اوحتي دایتلاف دځواکمني لپاره دنوروتوفونو راجلبول غواړي. له دي نه پورته به توره بي ننګي څه وي. چي څوك خپل والك ، خپل سر قاتل ته سپاري .ایتلافي اداري پدي باب له هیڅ ایمانداري نه کار ندي اخیستي . او نه یي دروسانو پرضد په نړیواله سطحه کومه داحتجاج چغه پورته کړیده . موږ نه پوهیږو ،استاذ رباني اومسعود ته به پخپل دي دول چلند کي کومه مینه محسوس شوي وي . چي د بي مثاله قرباني اوجهاد په بدل کي یي دهیواد مرکزیت تباه اوهغه پلان یي پلي کړ. چي دلویدیځ تګلاره اودمسلمانانو په وړاندي دنوي نړیوال نظام داشیطاني ښکردایتلاف له جوړښته راښکاره شو. دادافغانستان داسلامي برخلیك اوامت دمرګ او ژوند مسئله ده . نو څکه به تري څوك دومره په اساني له محاکمي ونه ژغورل شي.

آیا صلح به تاجکستان برمیگردد ؟

محمود

اخیرا هیئت های نمایندگي رژیم دوشنبه ومخالفین آن بخاطرانجام مذاکرات وارد کابل شده تازمینهٔ دورچهارم مذاکرات صلح میان طرفین راکه طبق قرار قبلي درصورت امکان درالماتا پایتخت جمهوري قزاقستان برگزارشود ، فراهم سازند .

دورهای قبلي مذاکرات میان طرفین درگیردرتاجکستان درشهرهای مسکو، تهران واسلام آباد برگزارشد اماصلح وهدفی که ازبرگزاري این مذاکرات متصوربود ، بدست نیامد . طوریکه هم اکنون مشاهده میکنیم درگیري درین جمهوري میان نیروهای مشترك روسی تاجکي ازیکطرف ومبارزین مسلمان ازجانب دیگرجریان داشته وهمه روزه قرباني برجای میگذارد . طوریکه به همگان معلوم است بعدازاضمحلال شوروي جمهوري های تحت

سطیره این امپراطوري به استقلال رسید که درین میان تاجکستان نیزازنعمت آزادي برخوردارشد وحکومت ائتلافي که ازاکثریت قریب به کامل ملت تاجکستان نمایندگي میکرد ، به قدرت رسید ، اداره امور را بدست گرفت و عناصرکمونست وعمال مسکو رابیرون راند .

عناصررانده شده ازقدرت درظرف کمترازیك سال بادریافت کمك های مالي ونظامي مسکوباردیگرقدرت دولتی رابدست گرفته باقلب های مملو ازکینه وخصومت بیشترنسبت به ملت مسلمان تاجکستان براریکه قدرت تکیه زدند ، همزمان باتسلط مجددکمونست ها قتل وکشتار درین جمهوري آغازوباگذشت هرروز شدت وگسترش یافت ، سرانجام برخي ازمسلمانان تاجك وشهید

وتعدادي زنداني شد وبرخی دیگرمجبور به ترك خانه وکاشانه شان شده به کشورهای همجواربخصوص افغانستان مهاجرگردیدند مسلمانان تاجکستان بخاطر حق غصب شده شان دست به سلاح برده علیه رژیم غاصب کمونست به جهاد مسلحانه پرداختند . همزمان با اوجگیري روند جهاد درین جمهوري ، روسیه که جانشین امپراتوري شوروي بوده وتاجکستان راساحه نفوذ خود میپندارد باعزام (۲۵) هزارسربازمجهز، تسلیحات مدرن وپیشرفته ، رژیم حاکم دوشنبه را براریکه قدرت نگهداشته ودرانجام خیانت وکشتار مسلمانان یاری اش کرد .

طوریکه قبلاً تذکررفت اکثریت مهاجرین تاجکستاني بنابردلایلي ازجمله سهولت های عبور ازمرز، تشابهات عقیدتي ، مذهبی ، لساني ونژادي موجو دمیان دوملت تاجکستان

وافغانستان وارد کشور ما شدند. قابل یاد دهاني است که ۶۲/۳ درصدنفوس جمهوري ۵/۵ ملیوني تاجکستان را تاجك ها و ۲۳/۵ فصید آنرا ازبکها تشکیل میدهند .

بایدیاد آورشد که در دور های قبلي مذاکرات میان هیئت هاي نمایندگي دولت تاجکستان ومخالفان آن که تحت نظرنماینده سازمان ملل در مسکو، تهران واسلام آباد صورت گرفت رژیم دوشنبه به بازگشت

مهاجرین تاجکي ازافغانستان وتحویلدهي سلاح مخالفان به دولت اصرارداشت بنابرین نیروهاي روسی بارها مناطق مسکوني سرحدي کشور ما را در ولایات تخاروبدخشان بمباران وراکت باران نموده تابدینوسیله برمردم محل که با برادران مهاجرشان طبق اصول اسلامي همکاري ومساعدت مینمایند وهمچنان تنظیم های مسلط برمنطقه مهاجرنشین فشاروارد نموده آنها را ازین کاربازدارند تامهاجرین مقیم درین ولایات مجبور به بازگشت به کشورشان سازند .

علاوه برآن درگذشته سران دوشنبه ومسکو ازمقامات اداره کابل بارها تقاضا نمودبود تامهاجرین تاجك را به تاجکستان بازگردانند واستاد رباني هم درین زمینه وعده هرگونه همکاري داده بود اما به علت عدم تسلط اداره کابل برمنطقه ووخامت اوضاع در داخل تاجکستان عودت مهاجرین تحقق نیافت

به تعقیب دومور دبمباران اخیرطیارات روسی درولایات بدخشان وتخار که تلفات وخسارات شدیدمالي وجاني برجای گذاشت ، اداره کابل این جنایت رابه قوای کشور های مستقل مشترك المنافع نسبت داده وظاهراً آنراتقبیح کرد ! بهرحال به تعقیب این جنایت ، داکترعبدالرحمن در راس یك هیئت ازجانب اداره کابل وارد مسکو شده بعدا زدیدار باسران

روسیه آمادگي این اداره رابرای فراهم نمودن زمینه مذاکرات میان امام علی رحمانوف رئیس جمهوري تاجکستان وسیدعبدالله نوري رهبرنهضت اسلامی تاجکستان اعلام داشت .

گرچه ملاقات مستقیم رحمانوف رئیس رژیم دوشنبه باسیدعبدالله نوری رهبرنهضت اسلامی تاجکستان که یکی ازاحزاب عمده وزورمند مخالف رژیم بحساب میآید ، ازبرازندگي های است که دردورهای قبلي مذاکرات وجود نداشت اما ازاین مذاکرات که زمینه سازدور چهارم مذاکرات صلح میان هیئت هاي رژیم تاجکستان ومخالفین آن بحساب میآید نمیتوان انتظارنتایج مثبتی را داشت مگرآنکه طرفین مذاکره کننده بخصوص سران رژیم تاجکستان ازمواقف قبلی شان تنازل نموده به واقعیت های موجود تسلیم شوند . درغیراینصورت دست یافتن به هرگونه توافقی که صلح وثبات را به تاجکستان اعاده وبقاي آنرا تضمین کند محال بنظرمیرسد .

گرچه سران اداره کابل درجریا ن دیدو وادید های مقدماتی باسران مسکو، دوشنبه ومقامات رهبری نهضت اسلامی تاجکستان ، طرفین درگیر را به صلح تشویق کرده وبخاطرحفظ روابط خود بامسکو ممکن سران مخالف رژیم دوشنبه را به پذیرش برخی شرایط دولت تاجکستان وادارسازند اما باوجود

آنهم نمیتوان منتظرصلح پایدار درتاجکستان بود زیرا رژیم کنوني تاجکستان ازپشتیباني ملت برخوردارنبوده وعلاوه برآن حضورنیروهاي روسی درین جمهوري یاد دوران تسلط شوروي سابق براین جمهوری راتازه نگهداشته ومظالم آنهاازکمالی السابق جریان دارد که این امرخشم ونفرت ملت تاجکستان را نسبت به هواداران روسیه که قدرت دولتي درتاجکستان را دراختیار دارند افزوده است . ناتوانی رژیم درحل مشکلات ملت ،افزایش بیکاري وفقر عمومی عوامل دیگریست که میان دولت وملت تاجکستان فاصله ایجاد کرده است .

اماباوجود همه فعالیت های موجود میان ملت ودولت ، روسها هیچگاه نیروهاي شان را ازتاجکستان عقب نخواهند کشید . طوریکه ازاظهارات سران مسکوبرمیآید تاجکستان مستعمره روسیه بوده و سرحدات جنوبی این جمهوري را سرحدات روسیه تلقی نموده ، خط مقدم جبهه مقابله با اسلام مبارزواسلام گرایي می پندارند بنابرین سربازان روسی باطیب خاطرازین جمهوري عقب نمی روند مگرآنکه قضیه افغانستان تکرارشود .

بهرحال میتوان حدس زدکه مذاکرات جاری که زمینه سازدورچهارم مذاکرات صلح است وآقاي رباني هم ازطرفین مذاکره کننده تقاضاي میزباني آنرانموده نتایج ملموس دربی نخواهد داشت زیرا در دورهای قبلي هم توافقاتی ازجمله استقرارآتش بس وتبادله اسراء میان طرفین امضاشده اماآتش بس توسط سربازان مکررا نقض شدوتبادله اسراهم طوریکه درتوافقنامه به آن اشاره بود ، صورت نگرفت .

دجنگ له لاري ستونزي نشي حل کیداي

شمس الرحمن

دافغان مجاهدولس څوارلس کلني جهادي شهکاري، دځمکي پرمخ دهغه مشهوراوپښرودښمنه کمونستي نظام دمحوه کیدوباعث وګرځیدي چي په بادسره بي دهرافغان مجاهدپه شمله کي دغیرت اوننګ آثارله ورایه ښکاري .

که څه هم چي افغان باتوروقوم دیوروښانه اوپرمیاله تاریخ درلودونکي دي، دخپلي میړاني حرب یي ددي خاوري دښمنانونه دتیرو پیړیوپه بهیرکي ښودلي اوهمدالامل وچي په آساني سره هیڅ تجاوزګرزړه نه شواي ښه کولاي دافغاناتوپه حریم مستقیماً مداخله وکړي اوپایي داخلي نظام ورګډو ډوکړي ، ولي په غیرمستقیم ډول سره دښمنانو وکولاي شواي دوخت دمستبدو،عیاشو اوبي کفایته واکمنانو له ناپوهي نه په استفادي سره اوځپلوابجنټانوذروزلو له لاري ددغي پاکي اوسپیڅلي خاوري داشغال خیال پلي کړي اوداملك هم دځان مستعمره وګرځوي. دغه دوګه شوي وحشي روسان په لومړي سرکي ددي چرت نه واهه چي زموږدروزل شوېو ایجنټانوګرمي وعدي اوکمونستي نظام دپلي کیدو دخوب تعبیربه غلط وخیژي بلکي هغوي دخپل مغرورانه اووحشیانه خیال سیر ، افغانستان خوپربزده چي ترګرمو اوبوړوي رسیدونکي باله . څرګله چي یي دغه غرور ددي قهرمان ولس مومنو بچیانو ورمات اودرسواماتي سره بي لاس اوګریوان کړل نوبخپله ددغه وحشي کمونستي نظام سردمدارانوپه افغانستان باندي پوځي برغل وغانده ،په خپلي ماتي بي اعتراف وکړاودغه عمل یي لویه اشتباه وګڼله .

کله چي په ۱۳۷۰کال کي په افغانستان کي دکمونستي نظام وروستي جرړي دمومنومجاهدینوپه لاس وایستل شوي، خیرالناصرین خداي (ج) بشپړه کامیابي وربه برخه کړه ،نو مجاهدینودافغانستان په مرکزکابل مبارکي دواقعي اسلامي نظام دجوړولو هڅي شروع کړي، دخپلوڅوارلس کلنوهلوځلو په بریالیتوب سره دکابل ښاراوټول هیوادپه فضاکي والله اکبر ناروسوروانګازي

کولي خو متاسفانه ځني خپلسري، واکمن خوښ اوپردیوپه وعدو سخت غولیدلي مجاهدنماڅیري راولاړي شوي اومجاهدینوداسلامي حکومت دقائمیدودهلوځلوپرمخ کي خنډشول چي هیڅاني تصورنه کاوه . دغه دتعصب اوکیني ډك اشخاص تردي حده دمجاهدینوپرمختګ مخنیوي لپاره، دجهادي اصولو خلاف عملونواجراکولوته یوي ووهلي چي یو واقعي مجاهدهیڅکله هم دوغه شانته نه بخښونکي جرم مرتکب نه ګرځي دوي پرځاي ددي چي دخپلوڅوارلس کلنومجاهدو ورونو سره لاس یوکړي، دیوارمان دیوره کیدو

هلي ځلي وکړي، برعکسه یي دمجاهدینوداصلي دښمنانوسره په لاس یوکولو د جهادي غازیانوپه ټکولو،پرځولواودکابل ښارځنه په ویستلوپسي پښي لوڅي کړي . پداسي حال کي چي همدغو غازیانو داڅوارلس کاله جهادي شهکاري له همدي امله کولي ترڅوپه خپل هیوادکي کمونستي رژیم نابوداوسوچه اسلامي حکومت جوړکړي او مؤمن هیوادوال په اسلامي نړي کي دیواسلامي حکومت دراوستو نمونه وګرځي ، دابي پتیبلي وه چي لدي وروسته به افغان مومن ولس دهغوخوښیاواوخوشحالیوترڅنګ چي عظیم الشان خداي (ج) په کال کي ددواخترونو په ترڅ کي پیروزکړي، دوطن دآزادي اودکمونستي رژیم د نابودیدوخوشحالي اوجشن هم دیوي تاریخي ورځي په یادلمانځي ، همدایي ارمان اوددوي غوښتنه وه . دهمدغي ورځي په افتخار سره یي بي شمیره مالي اوځاني قرباني ورکړي وي، په ډیراخلاص دصداقت سره یي دالله (ج) سره په کړي وعده کي ځانونه دبریالیتوب

تربولي ورسول . خوافسوس چي دکابل داداري دجاه، طلبو دبیځایه اوغیرشرعي هلوځلواوغیراصولي کاروتوپه سرته رسولوسره دوطن دآزادي خوشحالي خوپربزده، چي داخترونو خوشحالي تیرول هم زموږ دهیوادوالو دزړه ارمان پاتي شوي دي حتي تردي پوري چي دکابل اداري هرکال مومن ولس ته داخترسوغاتونه هم ،توپ، راکټونه اواوروونه والي کړي دي. هیڅ رنګه خوشحالي بي وربانډي پیرزوشوي نده حتي داخترورځ بي وربانډي په غم اوداختر جامي بي په سرووینوورلړلي دي .

تاسي به اوریدلي وي چي دلوي اختربه ورځوکي دکابل اداري جګړه ماروميدان ښاراوارغندي سیمي ترسختوهوایي اوځمکني بریدونولاندي نیولي وي. په ډیره بي رحمانه توګه یي داخترسوغات هغه ړندي او تخریبي ګولي وولیږلي چي نه دانسان ،نو دکورکلي اونه دزراعتي سیمي دله منځه ورلو خیال ساتي بلکي هرځاي چي ولګیدي په پراخه پیمانه سره دتخریب اوبربادي سبب ګرځي .

دیادوني وړده چي په تیرکال کي ۱۳۷۳ هم دکابل اداري دمیداتښاریه مومن اومجاهدولس باندي داختربه ورځوکي هسي وحشیانه بمباري وکړي چي دلسګونو شهیدانوپه ورکولو سره یي داخترخوشحالي په غمونوبدلي شوي.دکابل اداري دغه وحشیانه او ظالمانه عمل دهیجاهرلندي متاسفانه چي سږکال هم دغه مظلوم ولس داختربه خوشحالي پره نه شول بلکي په کورونوکي بي دقدرت دلیونیانوله لاسه دغم تغروغوریده . همدغه رازدفراه،زابل ، نیمروز اودهیوادپه نورو ولایتونوکي هم داختر خوشحالي په غمونوبدلي شوي . آیادغه رنګه ظالمانه

عملونوپه سرته رسولو سره ددي خبري ادعاکولاي شوچي موږپه هیوادکي دیواسلامي نظام درلودونکي یو، آیادغه رنګه حکومت اسلامي اصول پیاده کولاي شي؛ آیادغه رنګه حکومت واکمنان دملت غواخوږي اودهرچاروانوستنواوحقوقو ته لبیك ویونکي دي ؟ نه خیر، دادي دري کاله پوره شول چي موږدهمدغسي یوخپلسري اوجاه طلبه حکومت سره لاس اوګریوان یو، نه داخترونو په خوشحالیوپوه شو، نه دوطن دآزادي په جشنونو، نه موسرتوري کونډي اوبيي لوڅي یتیمان وپالل شول، نه مودوطن څخه ګډه شوي مهاجرپه خپل کورشول، نه موهغه ارمان ترسره شو چي پري جنګیدو اونه مونه دښمنانوڅخه دبلارمور، ورور، زوي اوخپلوانوکسات واخستل شوبلکي همغه دښمنان اوس هم داسلامي حکومت تریردي لاندي راپاندي، دالله (ج) له طرفه پیرزوشوي خوشحالي په غمونوبدلوي، قتلونه کوي، بي عزتي کوي ، لوټماري کوي اوداواقعي مجاهدینو ترمنځ دبي اتفاقي اوبي باوري تخم شیندي . افسوس چي کابل اداره اوس هم داسلامي دولت اواسلامي حکومت ناري سوري وهي اوپه عمل کي هغه څه سرته رسوي چي داسلامي حکومت ضددي. پراخځ په دروغجنوتبلیغاتو اوپروپاګندوسره دنړیوالو سترګو ته خاوري وروشیندي اوداسلامي حکومت دنافذیدودعوي کوي. ولي داحقیقت اوس هرچاته معلوم اوپه واګه شوي چي دکابل اداره پراخځ په قدرت کي پاتي کیدوله پاره هرناشایسته عمل پرځان قبلوي ، خوچي واك پردي نشي اومحدود اقلیت اختیارات پاي ونه مومي. کنه دکابل اداري دري کلني ناخوالي زموږ دهرمؤمن هیوادوال په زړه کي نه

روغیدونکي زخمونه جوړکړي چي پرته دواقعي اسلامي حکومت دجوړیدو څخه یي دوادرمل ممکن ندي .

که دکابل اداري واکمنان لاتورهم دافغانستان په اصلي ستونزي باندي ځان نه پوهوي ، پراخځ دجنګ له لاري دافغان مجاهد ولس ایلول غواړي، دخلکو په حقوقو سترګي پټوي تواعمل یي پرته لدي چي دافغاناتو څوارلس کلني جهادي شهکاري جرحه اودښمنانوته دناروانبلیغ اولاس وهني جرئت وبخښي، نور به یي ځان اوملت ته هیڅ ګټه نه وي رسولي اونه به لدي لاري خپل هدف ترلاسه کړاي شي ځکه چي دوي په خپله دري کلنه نوره دوره کي په جنګونو کي خپل بخت سه وآزمویه اوداپوښتنه اوس دهرچاپه ذهن کي ځواب شوي چي په افغاناتو باندي دجنګ ،زور اوزرله لاري حکومت کول ممکن ندي اوبه جنګ دستونزي دحل اساسي لاره اوکه داکارممکن واي نودري کاله ډیروخت دي چي کابل اداري دخلکوملاترلاسه کړي واي ، په هیوادکي امن اوسوکالي راغلي واي، نه کوراوکلي څخه مهاجرهیوادوال په کورشوي واي خوموږکورو اودهیوادروانه ویجاړه وضعه پخپله هم ددي شاهدي ورکوي چي متاسفانه هرڅه برعکسه وځتل اودهري ورځي په تیریدوسره دهیوادوالو ژوند له ستونزو سره مخامخ کیږي . موږ، نه پوهیږو چي دکابل اداري واکمنان ولي دجنګ لارغوره کړي ! ولي په ملت باندي یونه ، راکټونه اوتوپونه ولي! که دجنګ پرځاي له ملت سره دخبرواترولاري روانه کشاله حل کړي دابه دډول مجاهدملت اواسلامي امت لپاره ګټورعمل نه وي چي په نتیجه کي ددښمنانو له پاره یومستحکم سنګرجوړشي، ځکه نوربه خپل هیوادکي همدغه حقیقت په صادقانه اومخلصانه توګه سره پلي کړواوپه یوآوازسره دکوم هدف لپاره چي څوارلس کاله جنګیدلي یو، مثهي راونغاړو، دکونډو، رنډو، یتیمانواومليونوتوشهیدانوارمان سرته ورسووترڅوددوارو داریتوخوشحالي راته نصیب اوهیوادوال موسوکاله ژوندوکړي.

دغاصبو هندوانو دظلم لړۍ دبابري جومات له شهادت نه د چرارشریف ترسوځیدو پوري

عبدالهادي "نیازي"

داخبره ټولوته ښکاره ده چي کشمیرغاصبوهندوانوپرپخوانیولي اوله همغه وخت نه دغاصبوهندوانودظلمونوپه اورکي کي سوځي په سلګونوتومیالي مسلمانان اوپاتورشازلیان په شهادت رسول شوي دي .

په پښتوکي یومتل دي چي وايي هرچاته خپل وطن کشمیردي ، غم ځپلي کشمیرچي دپښتنوپه کلتورکي هم ورته ځاي ورکړشوي ښکلي دري ،جګ، جګ غرونه اوسپي چینې لري .

په دي کي ګڼ شمیرعلماواوتپلك شخصیتونه تیرشوي چي یوهم په هغي کي مرحوم شیخ نورالدین ولي دي. شیخ نورالدین په (۱۵) پیړي کي دتصوف یوسلسله جوړه کړه چي داسلسله دسیدعلي همداني له طریقي څخه جلاده . دده تصوف په بشیره توګه مذهبي بڼه درلوده او ټولو خلکوپه دي خاطرخوښوله چي مرحوم شیخ خپلوروحاني غروته دادنده سپارلي وه چي دخلکو دخپراوښیګڼي له پاره کاروکړي .

مرحوم نورالدین اومریدانوبه ئي همیشه کوښش کاوه چي په خلکوکي،داسي جذبه

راپورته کړي چي په خپلوتفساني خواهشاتوکي کموالي راولي . هغه دخپل نیك عمل اوعقیدي له امله په کشمیرکي دومره شهرت موندلي وچي کله دي په ۱٤۳۹ عیسوي کال کي په حق ورسیدنوده، په جنازه

کي دهغه وخت لویولویو روحانیونوبرخه واخیسته اوافغان ګورنرعطامحمدخان دهغه په ویارنو سکي جوړي کړي مګرهندي غاصبانوچي دتل له پاره یي کوښش کړي ترڅومسلمانان په دول ،دول تعذیبونو وځوروي ، مرحوم شیخ نورالدین زیارت هم دوي ته دسترګواغزي و، چي دبابري جومات له شهادت وروسته ئي کشمیردچرارشریف په ښارکي دمرحوم نورالدین زیارت اوهغه ته ورڅیرمه جومات چي ډیرښکلي جوړشوي ؤ داوریه لمبوسوزلو اوددي زیارت اوجومات دسوزیدوسره یوځاي دکشمیري مسلمانانوپه سلګونو کورونه هم داوریه لمبه کي وسوځیدل .

دمارچ دمیاشتي په اتمه نیټه په نړیوالو آژانسونو کي خبرخپورشو چي دچرارشریف

تولي لاري دغاصبوپوځیانو له خواتړل شوي هندي واکمن شکمن ؤ چي کشمیري مسلمان مبارزین دنوموړي زیارت سره نیږدي پټ دي اوپه دي ترتیب دغوځواکونودوه ځلي اسلامي مبارزینوته خبرداري ورکړي ؤ چي خپلي وسلي دوي ته تسلیم کړي اودوسلوپه تسلیمیدو په عوض کي به دوي پریږدي چي له زیارت څخه خوندي ووځي ولي مجاهدینودادرالدیزونه ردکړل خودمارچ دمیاشتي په (۱۵) نیټه دچرارشریف دمحاصري نه وروسته دلړي جګړي په ترڅ کي دوه تنه مجاهدین په شهادت ورسیدل همدارازهندي عسکرو دمارچ په یوویشتمه دغه ښار ته دخبریالانو دورتګ مخه هم ونیوله اودایپریل دمیاشتي په پنځمه نیټو دحریت کنفرانس غړي ئي دچنایوره په کلي کي ایساراوبندیان ئي کړل .

دتاجکستان داسلامي

خبرځاي دخپل خبر په تفصیل کي لیکي چي له نږدي څرګلو وروسته محترم سیدعبدالله نوري او رحمانوف ددوهم ځل لپاره خبروته سره کیناستل اودتاجکستان دروانې وضعي په باب ئي یوله بل سره تفصیلي خبري وکړي خودخبر وجزئیات ئي تراوسه ندي خپاره شوي. په خبرکي ویل شوي چي دنوموړو

دوومشرانو دخبرودوهم پړاو به دروانې میاشتي په پاي کي په قزاقستان کي ترسره شي .

دیادوني وړده چي نوموړو دوومشرانومخکي له دي چي یوله بل سره وګوري درباني سره ئي په جلال ،جلا تو‌ګه کتلي ؤ .

بیائید در روشنایي تجربهٔ دیروز، امروز وفرداي خود را بسازیم

صافی زاده

اندیشه بر اوضاع دردآور افغانستان که چرا درعرض سه سال گروهها وتنظیها وشخصیت های جهادي قادربه مهارجنگهاي ویرانگرنشده اند ؟ جنگها نیکه اثرات تخریب معنوی آن براتب بیشترازتخریب ظاهري آن است،درکابل ودیگرنقاط افغانستان آنهم بین گروههای جهادي چه پیامی برای ملت مادادشت ؟ وچه ره آوردي ؟ ذهن هرصاحب بصیرتي را بخود مشغول داشته است .مردم فکرمی کند وقتی درکشورهای دیگرملیت های مختلف میتوانند درزیرسایه قانونی که خودوضع کرده اند، سرنوشت خودرا تعیین نمایند ؛ اگرودرهندوستان که ۷۲ملیت درآن زیست مي کنند واگردرجاهای دیگردنیا نظامهای باثبات سیاسی توانسته اند ملیت های پراگنده رابرمحور حکومت مرکزی گرد آورند ، درافغانستان مظلوم ما که بخصوص در دوران جهاد درسنگرها درکمپ ها ومهاجرت ها وآوارگی ها سختی ها ومشقات رادرکنار هم تحمل مینمودند ومرمی گرم سوزان روسی قلب ازبك وپشتون وتاجك وهزاره رایکسان میدرید ، وملت مابیش ازپیش فشرده ترفاصله ها نزدیك ونزدیکتر گردیده بود ومیرفت تا ، امت ، رابمعنی واقعی آن شاید براي اولین بار عینیت ببخشد چگونه امکان تعیین سرنوشت وجود نخواهد داشت ؟ امادرینجا برخلاف دیگرجاها از آوان پیروزي بدینسو زمزمه هاي ملیت گرایي از گوشه وکنار بلند شده شخصیت هاي شاخص جهادي درائرتصفیه هاي جاهلانه

نژادي طرد بجای آن مشتی اوباش ، فاقد تعهد وصلاحیت براقتداربادآورده تکیه زده واشخاص عقده ئي که ازنظرروان شناسی بیمارند واحتیاج به معالجه دارند» برمحیط وماحول خودبه حکمرواني پرداخته اند ، رابطه های قومي وزباني ونژادي ومذهبی وسمتي جای ضوابط که به نظرجهان بیني اسلامی تقوا تعهد وتخصص است را اشغال کرد ، مصالح ملی جای خودرابرای مصلحت های غیرملي وغیراسلامی خالی نموده واین روند مخرب دربعضی ازنقاط کشور فضا راچنان مسموم ومتعفن نموده است که تنفس آزادانه برمعیارهای اسلامي درآنجا ها خیانت وجنایت تلقی میگردد !!! برنظرآنان باید هرکس وهرقومي پرچمي برافرازد وفقط هم نژاد ها وهم زبانها وهم مذهب های خودش رابرگرد آن فراخواند ، یعني دعوت به تفرقه ، جدائي ، دشمني ، کدورت ، قتال ، ویراني ، بربادي ، دربدري ، ذلت،رسوایی ودریك کلمه مرگ خفت بار یکجامعه اسلامی .

عمق فاجعه درکشور ویران مابخصوص درسه سال اخیرآنقدردردآوراست که ملائکه درآسمان بحال ملت ماگریانند وشیطان وشیطانکها درزمین ازرنج والم وغم وآه وناله مسلمانان غرق شادی وسروررقص وپایکوبی . حربه کهنه استعمار را مشاهده مینمائیم که

باردیگربرقلب زخمی جامعه اسلامي مافرومیرود ، ششیرزنگ زده استعماراینبار باهدف «تفرقه بیانداز،تاحکومت اسلامي ایجادنگردد » را ازنیام بیرون کرده وازچپ وراست باضربه های مرگبارا برفرق ملت حیران ومظلوم مافرود میآورد وبدبختانه عده ئي همان ششیردشمن دیرینه اسلام رابرمردم مسلمان خود حواله نموده وعملا در راستاي منافع دشمنان دین وانقلاب ووطن اسلامی خود گام می نهند .

روند فوق اگردربی تفاوتی شخصیت های سیاسی جهادي ، بازهم ادامه داشته باشد بر مملکت دوراه بیشتر باقی نمیماند؛ کشتارتاآنجا که کشوربه خاکداني مبدل گردد ونیروهای انساني تلف گردند واگراستعمار

چندمومیائی شده شاه شجاع را بر ارگ بنشانند کسی جرات مخالفت نداشته باشد !!! ویاراه دومی که بازهم برمذاق استکبار خوشایند است ، تجزیه افغانستان بوده که درهردوصورت رویاهای شیرین قدرت وحکمرواني براي احمد ومحمود برویرانه های افغانستان به یاس مبدل خواهد گشت .

وقبل ازآنکه این مرض مزمن وساري همه را آلوده تر وکند وشعله های جنگها به دیگرنقاط سرایت کند وتراژیدي های جانسوزوویرانگردیگربرمردم تحمیل گردد ، گروههای جهادي با اتخاذ موضعگیري مردمی به تجربه گذشته خود نظری مقایسوي بیاندازند امروز وفرداي خود را درروشنائي تجربه دیروزخود تعیین کنند . به ماحول خود

بنگرندشتون پنجم که دربیخ گوش شان اختلاف وتفرقه وبرادرکشی را نجوا مینماید باچشماني بازبنگرند ، وارسی نمایند ، دوباره وسه باره بقیافه های مظلوم شان دقیق شوند ، افکارواندیشه ها ومسلك ومرام شان رابشناسند ودرصدد تصفیه آنان ازکنارخود برآیند ، چه آنان دشمنان فکری همه مجاهدین وهمه رهبران وقومندانان اصیل میباشند .

تادیرنشده است رهبران جهادي بخاطرخداواین ملت مظلوم آستین ها رابالابزنند واز راه تفاهم ومذاکره ، از راه مصلحت اندیشی مجدانه وپیگیرقدم پیش بگذارند وکشوررا ازین بن بست واین ملوك

الطوایفی نجات بدهند واین راتپزبدانند که اگرچندمجاهد مسلح امروز در کنارشان است عطیه خداوندي است که فردا این امکانات دراختیارشان نخواهد بود ! واگرازنفوذ معنوی ومردمی خود امروز بنفع کشورسود نبرند ، فردا درائرحاکمیت های وکتاتوری دیکته شده بیگانگان جایشان درزندانها وسیاهچالها ویاتبعید وگوشه نشینی اجباری بوده که دراجتماع هیچ نقشی نخواهند داشت .

مسلماًهرشخص بانفوذ ویاصلاحیت مطرح دراوضاع جاری کشور درقبال بی تفاوتی اش دررورباززپسین حساب خواهدداد .

په کابل کي چي کوم ائتلاف دحزب اسلامي دټکولو له پاره يو بل ته لاسونه ورکړي وو ، هغه مات شوي دي

دشهادت درنولوستونکوا دادي دحزب اسلامي دمجاهد امير ورور حکمتيار دهغې عالمانه وينابشپړمتن چي دعرفي په ورځ يې دمسافرو مجاهدينوته کړي وه .

« ياايهاالذين آمنوا اذا لقيتم فئة فاثبتواواذکروا الله کثيراً لعلکم تفلحون واطيعوالله ورسوله ولاتنازعوا فتفشلواوتذهب ريحکم واصبروا ان الله مع الصابرين ولاتکونوا کالذين خرجوامن ديارهم بطراورئاء الناس ويصدون عن سبيل الله والله بمايعملون محيط » (صدق الله العظيم)

دورونو په ليدلوخوشحاله شوم اميدوي چي همداقطعه ديواسلامي منظم ځواک له پاره مقدمه وي، په تدريج سره به ان شاء الله په يولوي منظم قوت بدله شي، هرکاريه ابتداکي څه نواقص لري خويه مدار،مدار تکميل کيږي اوډکمال طرف ته درومي تاسي ددنيالوي ملکونه ،دهغوي قوتونه اوپوځونه ګوري هغه له محدودوقطعاتو نه پيل شوي هرڅومره چي منظم شوي اوقګري حالت ته ئي زياته توجه کړي هومره يي په مدار، مدار وده کړي او ديوځواک اوقوت بڼه ئي خپله کړي زموږ اميدواري همداده چي ان شاء الله دابه هم ديومنظم ځواک له پاره مقدمه وي .

ورونوا موږ يولوي جهادترسره کړ دئ جهاد په نتيجه کي دروس په شان يوځواک ته موماته ورکړه ، زموږ ملت دجهاد په نتيجه کي ددنيا دتاريخ مسيربدل کړ ددي جهادهدف دادئ چي په افغانستان کي يواسلامي نظام قائم کړو يعني داچي دخداي (ج) دين حاکم وي په ماانزل الله حکم وشي حدودجاري شي احکام نافذ شي ، اوحکومت پردي مکلف وي چي په ملک کي عدالت اوامنيت تأمين کړي دحکومت زمامداران ،ملت په خپله خوښه رټاکي دزوراودجبرله لاري په قوم مسلط نشي ،چي کله هغوي ته اقتدارسپارل کيږي نوبيت المال امانت وګڼي له خداي (ج) نه وويريږي ، په ولس ترحم وکړي په اجتماع کي عدالت اوبرابري راوري دخلکوسر،مال ،آبرواوعزت ساتنه وکړي هغه دولس خدمتګاروي. موږ ددغسي يونظام جوړولو له پاره وسله اخيستې وه اوداجهادموپيل کړي ؤ خومتأسفانه چي زموږ هغه آرمان لاتراوسه پوري نه دي ترسره شوي . داسلامي حکومت دجوړولو له پاره چي ځواک ملاتړي اوجهادله پاره اراده کړي، هغه بايد ځوځصوصيات ولري :لمړي داچي هغه په دخداي (ج) په لاره کي قرباني ته چمتو وي اوداالله (ج) په لاره کي به جهاد خپله فريضه ګڼي، هغه چي کوم قدم اوچتوي آګاهانه به وي، دخپل آرمان اوهدف په نسبت به بصيرت لري، هغه به دوست اودښمن پيژني ددي لاري دلوړو ژورو نه به واقف وي، په دې لاره کي چي څومره کړکيچونه اولوړي ژوري دي اويه هرقدم کي دښمن په کمين کي دي، بايد ددي ټولو په نسبت پوره بصيرت اوآګاهي ولري، هغه به لمړي دوست اودښمن وپيژني ،بيابه

ديومنظم جهادله پاره چمتوکيږي اويه منظم جهادکي برخه اخيستل خپله فريضه وګڼي او دلوبه ، روږي پشان به وربانديعمل کوي په دغسي صورت کي الله (ج) دهغوډبري اوډفتحي ذمه واردي ، هغه ته به خامخا په دښمن غلبه ورکوي ، نه يواځي پرهغه دښمن چي وروسره مخامخ دي خداي (ج) به ورته غلبه ورکوي بلکه دشراوډفسادټولو ځواکونوته به هم شکست ورکړي اوالله (ج) به همدغي ټولګي ته دځمکي خلافت سپاري، دادخداي (ج) محترم اولطعي وعده ده چي په هغه کي هيڅ شک نشته ، پيغمبرعليه السلام چي له هجرت نه وروسته دلمړي ځل له پاره جهادپيل کړ دټولو مجاهدينوشمير دري سوه ځوارلس کسان و له هغوي سره ديهرنه مرسته نه ده شوي، په يو اللهﷻ(ج) توکل لرلو اوهغه ذات ئي ځان لپاره کافي ګڼلو ،په خپلوذاتي امکاناتو لګه عشر، زکات اوصدقاتوئي جهاد شروع کړي و په همدي سره پيغمبر عليه السلام داسي يو قوت جوړکړ چي نه يواځي دحجاز ټولو شرکي ،اوکفري ځواکونو ته شکست ورکړ ، بلکه دروم اودفارس په شان دوه لوي سترځواکونه هم له شکست سره مخامخ شول . پيغمبر عليه السلام چي کله هم مدينه منوره دخپل مرکزيه حيث انتخابوله نودمجاهدينوشميرئي دومره نه و څومره چي نن دلته رانغونډدي ،ولي هغه هريوه سره دغړونو په شان قوي ايمانونه ور همدادايمان اوتوکل برکت وچي له افريقانه ترچين پوري دالويه خوره وره منطقه دهغوي تر تسلط لاندي راغله ،موږ دداؤد په وخت کي چي دلمړي ځل له پاره وسله اخيستي وه دمسلح مجاهدينوشميرموهم تقريباً دري سوه کسان ؤ يعني ديدرد غازيانودشميرپه اندازه خوومولېده چي کله همغه محدودډولګي سره

> **هغه کسان چي نن درهبري دعوي کوي ، هغوي ددې خبري تصورنشو کولاي چي موږ به دروس مقابله کوو**

دافغانستان ټول قوم ودريد،اوروسي يې افتناوکړه نويو لوي جهادپيل شو. اودروس په شان ځواك ته الله (ج) ماتي اوشکست ورکړاوزموږ دموجوده عصر تايخ ئي بدل کړاوس هم که موږ دافغانستان په دي موجوده شرايطو کي چي هرطرف ته جګړي دي ،خلك مأيوس دي، له بهرنه لاسونه اوږده شوي، او رنګ ،رنګ فتني راولاړوي .

